وروستەدوی دی نتیجی تەورسیدل چی حامدبن زهرەتـە دابوالقاسم اوابوعبدالله لەخواخطردی نوسلمان غوښتل چی زرترزرە دهغەحُای پیداکڕی اوورسرەملگری شی پەهمدی وختکی جعفرراغی اوپەسرای کی لەآس نەکوزشو .

دجعفرلەخبرونەمعلومەشوەچی حامدبن زهرەلومـڕی الحمراتە تللی اوهلتەیی پاریدلی کسان لڕکرارکڕی او دامنیت تعهدیی تری اخیستی اوبیاپەنا معلوم‌لوری لـە غرناطی نەلەلسوکسانوسرەوتلی سلمان لەعبدالمنـان او جعفرسرەترلڕدیرخبرووروستەعبدالمنان تەوویل چی زە اوس‌لەبنارنە وتلی شم؟ عبدالمنان ورتەوویل چی راحُەزە بەتردروازی درسرە ولاڕشم تەدوعاکوەچی هلتە داسی‌خوک وی چی زەیی وپیژنم ، سلمان دیوی لیندی اوغشوهیلـه وکـڕە اوهغەهم عبدالمنان ورتەراوڕل ، جعفرهم‌غوښتل چی لەسلمان سرەملگری شی اوهغەیوازی پری نودی خوهغە

تنم گلی زخیابان جنت کشمیر
دل ازحریم حجاز ونوا زشیراز است

اقبال پیرو راه مولانا جلال الدین بلخی است ملاحظه وی دربارهٔ تاثیری که بابرداشت مفهوم افلاس ازبیان سنائی برعوام حاصل می آیدبه معنی انتقادبرطریق وراه سنائی درمجموع نیست سنائی همان کسی است که مولانا دربارهاش میگوید :

عطار روح بودوسنائی دوچشم او
ما ازپی سنائی وعطار آمدیم

واقبال برمزارسنائی درغزنی درمورد حکیم سنائی چنین می گوید:

خفته درخاکش حکیم غزنوی
ازنوای اودل مردان قوی
آن حکیم غیب آن صاحب مقام
ترک جوش رومی ازذکرش تمام .

اختلاف اقبال دربعضی مواردبا ادبیات تصوفی اختلاف برسردونوع تصورودونوع برداشت است اقبال به تصریح خودش بیعت به عرفان داردولی با پیروی ازمولانا جلال الدین بلخی به (اصالت وجود) که درفارسی (همه اوست) تعبیرمیشودمخالف است .

تصوروی از" جبرواختیار" وبصورت کلی ازانسان کامل ورابطه این انسان با خدا (ج) بر همین بنیا داستوار است . دررابطه با ادبیات تصوفی نیزاختلاف وی ازهمین دیدگاه برمی‌خیزد.

(ادامه دارد)

ته دلته بله دنده سپا رل شوی وه ،سلمان دروانیدونه مخکی د جعفرپرا وده لاس کینوداووی ویل :

ته مه خفه کیږه که ما هغوی پیداکړل په تا پسی هم خامخا ځوک رالیږم .

جعفر وویل :

صاحبه! زه له هغوی نه هیڅ تشویش نه لرم ،له حامدبن زهره سره داسی کسان ووچی دپیزقوت اونفوذخاوندان دی، زه له هغوی نه هیڅ اندیښنه نه لرم زماتاته خوابده وه چی یوازی راوانیږی .

سلمان ورته وویل : ته فکرمه کوه زه به ستادکلی لاره - انشاءالله نه غلطوم سلمان پرآس سپورشوا وله سرای نه راووت ، باران په اوزیدوپیل وکړ ، سرک ختی وء اوهغه آس ددروازی په لوری وځغلاوه ، دروازی ته نږدی هغه عبدالمنان ولیدچی له څلوروتنوحوکیدارانوسره ولاړدی او کله چی هغه وروورسیدیوه تن ساتوونکی دروازه بیرته کړه او سلمان بهرته ووت کله یی چی شاته وکتل نوتولوهغه ته په قدای پامانی لاس پورته کړل سلمان په زوره دخدای (ج) پامان وویل اوآس یی پوندہ کړ ....

دوا ملری

ل – "خرم"

غـزل

اشکی لغزیدوبریخــن نرسید
بغضی خشکیـدوبردهن نـرسید
خوش درخشیدآسمــان ازمهر
شمعی برشام تارمن نر سیـد
این هیاهوی فتح وپیـروزی
برفلک گشت ودرلجن نرســید
شعله‌ای ازورای این آتــش
به‌نفس های سردتــن نرسیـد
آنچنـان خالـی ازسراپایـم
کزپی هست من،وطن نرسیـــد

دشهید غوښتنه

زه شهیدیم اوشاهدهم یم ، شهیددخدای (ج) په لاریم او شاهدپرخپلو وینو یم ،جها دمی پر شهادت گواه . ورکوی اووینی می پرگواهی گواهي !

هو ! زما وینی دشهید وینی دي اودشهید دوینوبدله ورکوونکی هغه څوک دی چی د موږ منا نودژوندانه لپاره یی دجها دلارنیاکلي .

هو ! جهاددموږ منا نه ژوندانه بنسټ دی .

هو ! زما جهاد، شهادت اوشاهدی دخدای (ج) لپاره ،زما دژوندانه لپاره ،ستا دژوندانه لپاره اوژوندی ساتل یی پرتادي ،دوینو هرڅاڅکی می له تاسره امانت دی، الهی امانت چی په حفاظت کی خیانت به یی درنه دقیامت په لویه ورځ غوښتی شی .

نه ! نه ! لری ولاړم ،که زما دوینو په ساتنه کی دی خیانت وکړ ، ځان دی وواژه اوپوهیږ ی چی ځان وژنه څومره لویه گناه ده ؟

هو ! ځان خودی وواژه وواژه ،لاچی زماله وینو سره دی خیانت هم وکړ ، څه فکرکوي چی زما وینی به درته وبښل شی ؟

آه ! بیارانه خبره اوږده شوه ،یواځی ته نه ،بلکه زما وینی نوروارثان هم لري ،هغوی به تا په دی دنیا هیچیری معاف نکړی اوتاریخ خولاپریږده .

دتاریخ قلمکارخوبه درنه دخپلوژوبلواحسا ساتوښه بدله واخلي ، داسی به دی تور کړی چی دنیاآباده وی سپین به نه شی !

وادی وریدل ! ښه دزړه پرغوږویی واوره !

ته چی څه له ځانه بی ځانه کړی یی زه هغه پیژنم ،هغه دواک اواقتدار کښه نیلی دی ، چی یوه ورځ به دی سردلاندی راپریباسی اوبیا به دی آه وفریاد هیڅ ځای نه نیسی .

نو ! راشه اوس فکروکړه ،دخپلو موږ منو شهیدانو وینی اوارمان خپل وگڼه ،اوس هم وخت شته ،دا هرڅه ستا دی، خولږصبرا وزغم غواړی .

هو ! دموږ من لپاره دشهیدوینی خپلی گڼل پردنیا اوآخرت دواړ لی ژوندانه زیری دی .

" لتمون "

" شفیقی"

دتاریخ پرلمن !

دویرکیسی دغیرتونو ترانی غږ وی
په ښکته پورته ویږ وطن دشهیدا نوځلی
دتاریخ پا ڼوکړله ثبت دکمونیزم جفا
پری شاهدا ن ویجاړویران دافغانا ڼوکلی
دچنگیزیت اویهودیت دمخ روښی لپاره
داورپرکا ڼوخودتندی دانسانا نوولی
چی ایمانی ولولی رنگ شی دغیرت په وینو
تری به لښکردشرق اوغرب دغلیما نوځغلی
چی حماسی موابدی کړی دتاریخ پرلمن
دشهادت شربت زرگونوا تلان څښلی
زموږ پرښا روکلیو ،کورونوسره پولادا وروی
چاوی پوځونه دبی رحمه قصا بانوتللی ؟!
چی له فطرت سره په جنگ شی تورا وسوریی لاحه ؟!
څوک شی ښکاره څوک دښمنا ن دمومنا نوغلی .

افغانستان په تیره عیسوي میاشت کې



ټولونکی اولیکونکی:
عوض الدین " صدیقي "

مهم نو پیښو ته یوه کتنه :

دغه وخت راهیسې چې روسان له افغانستان څخه وتلي او په دې هیواد کې دحکومت جوړولو مسئله را مینځته شوې ده او په تیره بیا د مجاهدینو دوو – موقتي حکومتونو په جوړیدو سره د "پراخ بنسټه "حکومت اصطلاح ډیره اوریدل کیږي او د افغانستان د مسئلې د ښاسي حل په باب دا اصطلاح ډیره معموله ده .

د تیرې میاشتې په ۹ تاریخ د پاکستان جمهوررئیس د پراخ بنسټه حکومت غوښتنه وکړه خو دا یې ورسره زیاته کړه چې روسان غواړي د نجیب رژیم هم په نوموړي پراخ بنسټ حکومت کې ځای کړي ، او دا یې د دې پروسې د لارې یو خنډ وبللو . د همدې میاشتې په ۱۲ نیټه د پاکستان صدراعظمې بینظیر بوټو هم پراخ بنسټ حکومت وستایه او په هغه کې یې د ظاهرشاه مهم رول ته هم کولای شي ویې لو بوي اشاره وکړه او همدارنګه په ۱۴– نیټه په تهران کې چې د افغانستان په هکله نړیوال سیمینار جوړ شوی و ، آغاشاهي د پاکستان د بهرنیو چارو پخواني وزیر د افغانستان د شخړې یوازینۍ لار د پراخ بنسټه حکومت جوړیدل وبلل .

اوس د مسئلې اساسي برخه دا ده چې پراخ بنسټ حکومت یعنې څه ؟

د پراخ بنسټ حکومت اصطلاح یو کلي لفظ دی چې کولای شي د بیلا بیلو حکومتونو تصویر کړي ، امریکا د دغه حکومت نه یو منظور ، روسان بل مقصد او پاکستان ، ایران ، نجیب .... بل . موږ د قضیې داصلي طرف په حیث باید و وایو چې خارجي قوتونه دې ځان په دغه لانجه کې نه ستړي کوي ، هغوی د ی پریږدي چې دا ملت پخپله خپل سرنوشت و ټاکي ، که څه هم چې شاید ډیر کسان دا ادعا وکړي چې ملت باید خپل سرنوشت پخپله و ټاکي خو عملاً " به هیڅ ډول طرح او پلان ونه لري ، خو د حزب اسلامي مجاهد امیر د دې ستونځې د حل کولو د پاره د متناسبې نمایندګې په اساس د انتخاباتو طرح وړاندې کړې ، د همدې میاشتې په ۶ نیټه پیر سید احمد ګیلاني په اسلام آباد کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د انتخاباتو په هکله د حکومت تائید ی نظر اعلان کړ ، خو موږ دا وعدې او عهدونه ډیر لیدلي ، هیله ده داځل خبرې د عمل جامه واغوندي او بالاخره پر دغه تعهد عمل وشي .

دشفق مجلی ګرانو لوستونکو!
په لاندینو کرښو کی به تاسو د افغانستان په باب هغه نیته په نیته راټول شوی مطالب ولولی کوم چی د روان عیسوی کال د اکتوبر په میاشت کی پیښ شوی مورډ مطالب په دی وضاحت سره چی بنا یی ځینی نیمګړتیا وی ولری ستاسو مخی ته ږدو — امید دا ستفادی وړ وو ګرځی.
"صدیقی"

اکتوبر:

۱ – اکتوبر – ۹ تلی: دکابل رژیم دصدراعظم مرستیال سرور منګل او دتعلیم او تربیی وزیر مهرمحمد حجازی" دپاکستان هغه وفد سره چی پکښی دنصرت بوټو فرهنګی سلاکاری هم ګډون درلود ولیدل .. دپاکستان دی وفد څو ورځی وړاندی دکابل رژیم په بلنه هغه هیواد ته سفر کړی وو.

۱ اکتوبر – ۹ تلی: دعبوری حکومت جمهور رئیس "مجددی" او د بیا آبادولو وزیر "ربانی" ایران ته سفر وکړ تر څو دافغانستان په باب هغه جوړ شوی سیمنار کی ګډون وکړی چی دایران دبهرنیو چارو وزارت له خوا جوړ شوی.

۱ اکتوبر – ۹ تلی: دپاکستان دجماعت اسلامی نائب امیر پروفیسر خورشید احمد دیوی وینا په ترڅ کی کابل ته دپاکستانی وفد تګ وغاندم.

۲ اکتوبر – ۱۰ تلی: په نیویارک کی دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر یعقوب خان او دروسیی دبهرنیو چارو وزیر شوارڼا دزی سره وکتل او تر دوساعته کتنی وروسته ئی د افغانستان مسئلی دسیاسی حل دسرته رسولو لپاره یو قرارداد لاسلیک کړ.

۲ اکتوبر – ۱۰ تلی: دعبوری حکومت دارشاد او دعوت وزیر داکتر نجیب دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی دغرب دا تبلیغات ردکړل چی ګواکی پاکستان پر مجاهدینو دافشار راوړی چی دکابل رژیم سره وغږیږی.

۲ اکتوبر – ۱۰ تلی: دکابل رژیم له خوا یو ویشتل شوی سکډ دپاکستان په سرحدی سیمه میرانشاه کی ولګید چی کومه ځانی او مالی تاوان ئی ونه رساوه.

۲ اکتوبر – ۱۰ تلی: دپاکستان صدراعظمی بی نظیر بوټو دبی بی سی تلویزیونی شبکی سره په مرکه کی وویل: مجاهدین باید دسیاسی حل په لټه کی شی هغی زیاته کړه دوی که دد وستانو خبر منی باید دکابل رژیم سره خبری وکړی.

۳ اکتوبر – ۱۱ تلی: دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر "یعقوب خان" په نیویارک کی دامریکا دبهرنیو چارو وزیر "جمیز بیکر" سره ولیدل او دافغانستان مسئلی په هکله ئی ورسره خبری وکړی.

۳ اکتوبر – ۱۱ تلی: یوه روسی جنرال "کیم فولوف" د"۱۰" رګوفتی ورځپانی سره په مرکه کی وویل: دروسیی څلورتنه مشران پر افغانستان باندی دروسیی قواو دیرغل مسئول دی هغه ددی افرادونو مونه په ترتیب سره، اندروپوفه بریژنف، اندری ګرومیکو او "استینوف" ددفاع پخوانی وزیر وبودل.

۴ اکتوبر – ۱۲ تلی: باوری منابعو رپوټ ورکړ چی روسی الوتکو دروسیی قواوتر وتلو وروسته کابل ته (۳۸۰۰) پروازونه کړی چی په دی ټولو پروازونو کی یوا ځی نظامی مرستی دکابل رژیم ته را رسولی.

۴ اکتوبر – ۱۲ تلی: په تهران کی دافغانستان مسئلی په اړه څریوال سیمنار پیل شو چی پکښی دنړی دزیاتو هیوادونو استازو ګډون وکړ. دی سیمینار کی دګډون په وخت دپاکستان دبهرنیو چارو پخوانی وزیر آغا شاهی وویل که په افغانستان کی پراخ بنسټیزه حکومت جوړ نشی حالات به نور هم خراب شی.

۵ اکتوبر – ۱۳ تلی: دکابل رژیم مشر نجیب د "اندپینډنت" ورځپانی سره په مرکه کی وویل: زه به هیڅکله استعفی ورنکړم ځکه زما حکومت ټینګ دی هغه زیاته کړه: ددی پر عکس دی ته چمتو یم چی دافغانستان مسئلی دحل لپاره دامریکا او پاکستان سره وګورم.

۵ اکتوبر – ۱۳ تلی: دا سلامی کنفرانس دګډو هیوادونو دبهرنیو چارو وزیرانو په نیویارک کی د یوی غونډی په ترڅ کی دافغانستان مسئلی په اړه هغه قرارداد دمنظور کړچی دروسیی دبهرنیو چارو وزیر شورناد زی او دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر یعقوب خان تر منځ لاسلیک شوی وو.

۵ اکتوبر – ۱۳ تلی: ورور حکمتیار دراولپنډی په مطبوعاتی کلپ کی دژورنالستانو یوی غونډی ته په وینا کی وویل: دپاکستان اوسنی حکومت دخپل پخوانی حکومت دا وعده باید پوره کړی چی وعده ئی کړی وه په افغانستا ن کی به انتخابات کیږی.

۶ اکتوبر – ۱۴ تلی: پیر سید احمد ګیلانی دعبوری حکومت دستری محکمی رئیس په اسلام آباد کی د یوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی وویل:
دځو میاشتو په مینځ کی به د ایران او پاکستان په میشته مهاجرینو او آزاد شوو سیمو کی انتخابات وشی تر څو دفبروری تر میاشتی یوه منتخبه شورا ولرو.

۶ اکتوبر – ۱۴ تلی: دهغی میګ (۲۱) جیټ الوتکی پیلوټ چی څو ورځی وړاندی خپله الوتکه په پیښورکی راکوزه کړی وه دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی وویل: دکابل رژیم ۹۰٪ پیلو-

ټاڼ غواړي چې دمجاهدينوسره يوځای شي .

۷ اکتوبر- ۱۵ تلی: نصرت بوټو په نيويارک کې دملګرو ملتودمشر کوئيارسره دافغانستان مسئلی پاره خبری وکړی په دی ليدنه کی دپاکستان دبهرنيوچاروو زير يعقوب خان همګډون درلود يعقوب ترکتنی وروسته خبريالانو ته وويل : کوئيار په دی ليدنه کی نوی مسايل مطرح کړل چی په پاکستان کی به بحث وربانندي وشي .

۸ اکتوبر- ۱۵ تلی: دايران دکورنيوچاروو زير پاکستان ته سفروکړاودبی نظيربوټوله خصوصی مرستيال " نصيرشيخ " سره ئي دافغانستان مسئلی پاره خبری وکړی .

۸ اکتوبر- ۱۴ تلی:داسلامی کنفرانس دبهرنيوچاروو زيرانو په نيويارک کی ديوی غونډی اعلاميه په ترڅ کی اعلان وکړ:دافغانانو ټولی ډلی بايدسره يوځای شي يو پراخ بنسټيزه حکومت جوړکړی ترڅو دکابل ګوډاګی رژيم له مينځه لاړشي اوځای ئی دا رژيم ونيسي.

۸ اکتوبر- ۱۴ تلی:دامريکا دبهرنيوچاروو زارت مرستيال پاکستان ته سفروکړاودلته ئی د بی نظيربوټوپرته څينونورو — پاکستانی مقاماتوسره دسيمه ايزواوافغانستان مسئلی په باب خبری وکړی .

۹ اکتوبر- ۱۷ تلی:دپاکستان جمهوررئيس غلام اسحق خان په پيښور کی يوی غونډی ته په وينا کی وويل : پاکستان تل دافغانستان مسئلی دسياسی حل کوښښ کړی هڅه زياته کړه : دافغانستان مسئلی دحل يوازينی لاره ديوه پراخ بنسټيزه حکومت جوړيدل دی چی ټولو افغانانوته دمنلوړوی هڅه زياته کړه : روسانودا ټينګارکوی چی په پراخ بنسټيزه حکومت کی د کابل رژيم ته ځای ورکړای شی خودادی مسئلی په حل کی لوی خنډ دی .

۹ اکتوبر- ۱۷ تلی: روسانود ملګرو ملتوعمومی مرستوته چی د روسيی له لاری افغانستان ته راوړل کيږی اجازه ورکړه دی چلی څينی دمرستولوړی قطارچی دفيلنډ هيواد دی شمالی ولايتوته ورسيدا لبته دامرستی دکابل رژيم ترتصرف لاندوسيموکی ويشلی کيږی .

۱۰ اکتوبر- ۱۸تلی:دعبوري حکومت مشرمجددی اودبیا آبادولو وزيرربانی په تهران کی دايران دبهرنيوچاروو زيرولايتی سره دافغانستان مسئلی پاره خبری وکړی .

۱۰ اکتوبر- ۱۸ تلی:نصرت بوټو دبی بی سی ټلويزيونی شبکی سره په مرکه کی وويل : روس دی ته حاضرشوی چی دعبوري حکومت دجوړيدوپرخاطردمجاهدينوسره خبری وکړی هغی زياته کړه :په دی باب ترهغی وروسته فيصله وشوه کله چی يعقوب خان او شوروانو دزی سره وليدل هغی زياته کړه : موږ به اوس په پاکستان کی دمجاهدينوسره ترليدنی وروسته ددی ليدنی لپاره وخت اوځای ټاکو .

۱۰ اکتوبر- ۱۸ تلی:نيويارک ټايمزدباوری سرچينوپه حواله ريپوټ ورکړچی اوس هم په کابل کی (۳۰۰) روسی پوځيان موجوددی او دمجاهدينوپرضدسخت توغندی ولی.

۱۱ اکتوبر- ۱۹ تلی: دکابل ښارپرنظامی تاسيساتودمجاهدينو لری ويشتونکی توغندی ولګيدل چی دهغی له امله ددښمن ۳۰ تنه ووژل شول اونورزيانات مالی تاوان ورواوښت .

۱۱ اکتوبر- ۱۹ تلی: دامريکا دبهرنيوچاروو زارت يوی سلاکاري "مارګريت تټولر" ديوی وينا په ترڅ کی وويل : اوس هم په کابل کی (۳۰۰) تنه روسی سلاکاران د مجاهدينوپرضددکابل رژيم — عملياتو رهبری کوی هغی داعمل دجينوا معاهدی له تعهداتو څخه خلاف ورزی وبلله .

۱۱ اکتوبر- ۱۹ تلی :دعبوري حکومت يوه ويندوی اعلان وکړ ملګری ملتونه بايدخپلوهغو مرستولپاره چی دروسيی له لاری افغانستان ته راوړی دمجاهدينو څخه اجازه واخلی اوپه دی باب دمجاهدينوسره وغږيږی .

۱۱ اکتوبر- ۱۹ تلی:دپاکستان دفقه جعفريه مشرساجدنقوی ديوی وينا په ترڅ کی وويل :دامريکا ئياتواوعرباتودخوښی خلک د افغانستان دخلکونمايندګی نشی کولی .

۱۲ اکتوبر- ۲۰ تلی:دپاکستان صدراعظمی بی نظيربوټودبشاور په هوائی ډګرکی خبريالانوته وويل : ظاهرشاه دافغانستان پاچاء او اوس هم مثبت رول — لوبولی شی په دی شرط چی دعبوري حکومت سره مرسته وکړی هغی زياته کړه : دروسی پوځونوتروتنی وروسته بايی دامسئله نړيوالوته حل وی خوپاکستان ته ندی حل شوی .

۱۲ اکتوبر- ۲۰ تلی: دجماعت اسلامی پاکستان مشرقاضی حسين احمد دکندهارڅخه ترراستنيدو وروسته په لاهورکی خبريالانوته وويل : څوک چی وائی د افغانستان مسئله دسياسی لاری حل کيږی اشتباه کوی دافغانستان مسئلی دحل يوازينی لارجهاد دی هغه زياته کړه :په افغانستان کی

داقتدار دانتقال لپاره یواځنی لار انتخابات دي چې دافغانانو هیڅ ډله ورځخه مخالفت نه لري

۱۲ اکتوبر- ۲۰ تلی: دپاکستان د"فرنستیرکور" په آخرنی غونډې کې دبینظیر بوټو سره یوځای دعبوري حکومت مشر مجددي هم ګډون وکړ دغونډې په پای کې بینظیر بوټو خبریالانو ته وویل: مجددي ایران ته دخپل سفر په باب ما ته معلومات راکړل.

۱۳ اکتوبر- ۲۱ تلی: باوري سرچینو رپوټ ورکړچې افغاني مهاجرینو سره په مرستو کې کمی راغلی رپوټ زیاته کړی: تیره میاشت مهاجرینو ته یولکه ټنه غنم دپخوا پرنسبت کم ورکړای شول

۱۳ اکتوبر- ۲۱ تلی: دکابل ګوډاګی رژیم په هند کې دخپل پخوانی سفیر عبدالصمد ظهر پر ځای نوی سفیر د"احمدسرور" په نوم وټاکه او هغه ئې په یوګوسلاویا کې سفیر وټاکه.

۱۵ اکتوبر- ۲۳ تلی: دپاکستان باوري سرچینو رپوټ ورکړچې پاکستان دافغانستان مسئلې په اړه خپلې پالیسي ته دنوي بڼې ورکولو په فکر کې دي چې په هغې کې به دپراخ بنسټیزه حکومت پر جوړیدو زیات فشار راچولی شي رپوټ زیاته کړه په دې باب هغې غونډې کې فیصله وشوه چې دصدارت په سکرټریت کې جوړه شوې وه.

۱۵ اکتوبر- ۲۳ تلی: دکابل رژیم پردې اعتراف وکړچې اوس هم په کابل کې روسي سلاکاران شته خو په نظامي عملیاتو کې برخه نه اخلي هغوی ددې سلاکارانو شمیر د(۵۰ او ۷۰) په مینځ کې وښود.

۱۵ اکتوبر - ۲۳ تلی: دکابل دګوډاګی رژیم مشر نجیب ټول هغه اختیارات چې دنظامي حالاتو په خاطر دپلاس کې اخیستي وه- بیرته پارلمان ته وسپارل.

۱۶ اکتوبر- ۲۴ تلی: باوري سر- چینو رپوټ ورکړچې دامریکا د سفارت یوغړي (کارجان لهوفر) په روم کې دافغانستان پخواني مخلوع شاه ظاهرشاه سره ولیدل او دافغانستان مسئلې په باب ئې ورسره خبرې وکړې.

۱۶ اکتوبر- ۲۴ تلی: دکابل ګوډاګی رژیم دیوې اعلامیې په ترځ کې اعلان وکړچې ټول ژور- نالستان دې راشي او هغه ځای وګوري چې دهغه ځخه سکډتوغندي توغولی کیږي ترڅوئې داشک لري شي چې دا توغندي روسان ترغوي

۱۷ اکتوبر- ۲۵ تلی: دامریکا په کانګریس کې دافغان دجهاد یوملاتړکوونکي "همفري" دپاکستان جنګ ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل: افغانستان ته دظاهرشاه دبیرته راتګ امکانات نشته هغه زیاته کړه: زه ددې خبرې طرفدار نه یم چې وائي امریکا یواځې د انساني همدردۍ په خاطر مجاهدینو سره مرسته کوي، افغانستان د- موقعیت له لحاظ امریکا ته زیات اهمیت لري.

۱۷ اکتوبر- ۲۵ تلی: دعبوري حکومت دکورنیو چارو وزیر مولوي خالص دیوې وینا په ترځ کې وویل زه دانتخاباتو مخالف نه یم بلکې غواړم چې داسلامي شریعت په رڼا کې انتخابات وشي خو په اوسنیو شرایطو کې امکان نلري.

۱۸ اکتوبر- ۲۶ تلی: بې نظیر بوټو د"دولت مشترکه" دمشرانو غونډې ته په وینا کې وویل: پاکستان ددې هلې ځلې کوي چې دکابل رژیم پرځای یوداسې پراخ بنسټیز حکومت جوړشي چې ټولو افغانانو ته دمنلو وړوي. د "دولت مشترکه" دا غونډه په "کوالالمپور" کې جوړه شوه.

۱۸ اکتوبر- ۲۶ تلی: دامریکا دبهرنیو چارو وزارت یوې پلټونکې ډلې دیوې وینا په ترځ کې وویل: روسانو کابل رژیم ته دپخوا په نسبت خپلې مرستې دوه چنده کړي.

۱۹ اکتوبر- ۲۷ تلی: دکابل رژیم له خوا یوتوغول شوی سکډتوغندی د" ګومل" په سرکې دمهاجرینو په دوکانو ولګیدچې دهغې له امله (۷) تنه مهاجرین شهیدان شول او زیات دوکانونه دخاورو سره خاوري شول..

۱۹ اکتوبر- ۲۷ تلی: دپاکستان صدراعظمې په هغې میلمستیا کې ګډون وکړچې په نیویارک کې دپاکستان سفیر نسیم احمد ورته کړې وه هغې دمیلمستیا ګډون کوونکوته دوینا په ترځ کې وویل: دملګرو ملتو مشرکوئیار خپلې هلې ځلې دافغانستان مسئلې دسیاسي حل لپاره تیزې کړي هغې زیاته کړه دافغانستان مسئلې ترحل کیدو وروسته به دروسیې او پاکستان اړیکې ښې شي.

۲۰ اکتوبر- ۲۸ تلی: دپاکستان صدراعظمې بینظیر بوټو په کوالالمپور کې دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې وویل: موږ به ترهغې دمجاهدینو مرستې جاري ساتو چې دمجاهدینو عبوري حکومت جوړشي هغې زیاته کړه دنجیب حکومت دنسکوریدو پرته دافغانستان مسئله نه حل کیږي.

۲۰ اکتوبر- ۲۸ تلی: مجاهدینو دکابل په ښارکې ددښمن نظامي مراکزاو هوائي ډګر دلري ویشتو- نکو توغندیو تراورلاندې ونیول چې دهغې په ترځ کې ددښمن (۱۲) تنه ووژل شول.

۲۰ اکتوبر- ۲۸ تلی: باوري سرچینو رپوټ ورکړچې دمجاهدینو

گوندونه په دې متفق شوي چې دېوه واحد قیادت لپاره انتخابات وکړي که څه هم چې خالص او مجددي ناراضه ښکاري .

۲۱ اکتوبر – ۲۹ تلې: دوروسک سیمې د حضرت عمرفاروق (رض) غونډ کې د حزب اسلامي ارکانو یوه غونډه دوروروحکمتیار تر مشرۍ جوړه شوه چې دري ورځې یې دوام وکړ په دې غونډه کې وروروحکمتیار د حزب ارکانو ته لازم هدایات ورکړل

۲۱ اکتوبر – ۲۹ تلې: دپاکستان دصوبه سرحد اعلی وزیر آفتاب شیرپاو دالخلیج ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل : دافغاني مهاجرینو سره دغربي هیوادونو مرستې کمې شوي په دې خاطر اکثره اوس دپاکستان خصوصاً دصوبه سرحد پر حکومت بوج دی .

۲۲ اکتوبر – ۳۰ تلې: دلوګرپه ولایت کې ددښمن یوا کما لاتي قطار چې غوښتل ئې ځان ګردیز ته ورسوي په شاوتمبول شوا و – ددښمن زیات شمیر افراد په کې ووژل شول .

۲۲ اکتوبر – ۳۰ تلې: دامریکایوه څلورکسیزه هیئت په پشاورکې د مجاهدینو دعبوري حکومت مشر مجددي ،دکورنیو چارو وزیرخالص دبیاآبادولو وزیرربانی د حزب اسلامي مشر وروروحکمتیار دعبوري حکومت صدراعظم استاد سیاف او دستری محکمی مشرگیلاني سره ولیدل او دافغانستان دروانو حالاتو په باب ئې دمجاهدینو مشرانو سره خبرې وکړې دې هیئت په پشاورکې دظاهرشاه نماشنده "مسکین" سره هم ولیدل او ترهغې وروسته ئې دکویټې خوا ته حرکت وکړ .

۲۳ اکتوبر – ۱ لړم: دپاکستان دجمعیت علماء اسلام (درخواستي ګروپ) مشرمولانا سمیع الحق امریکا ته سفروکړاو هلته ئې د امریکا دکانګریس څینوغړوسره دافغانستان مسئلې په باب خبرې وکړې .

۲۳ اکتوبر – ۱ لړم :دکابل رژیم مشرنجیب دهانګ کانګ د"فارایترن اکنامک ریویو" خپروني له خبریال سره په مرکه کې وویل: دپاکستان او امریکا دا غوښتنه احمقانه ده چې نجیب دې استعفی ورکړي هغوی باید وپوهیږي چې زما حکومت قوي دی .

۲۴ اکتوبر – ۲ لړم: مجاهدینو دهلمند په ولایت کې د"هزارجفت" ولسوالي آزاده کړه او دهغې په ترځ کې ددښمن زیات شمیرافراد سره دمهما تو ژوندي ونیول .

۲۴ اکتوبر – ۲ لړم: دکابل رژیم له خوا یوتوغول شوی سکډتوغندی دتری پربازار ولګیدچې دهغې له امله (۱۲)تنه شهیدان شول دا سیمه دپاکستان سرحدي سیمه ده .

۲۵ اکتوبر – ۳ لړم: دروسیې دبهرنیو چارو وزیرشورنادزی دیوینا په ترځ کې دی باندې اعتراف وکړچې پرافغانستان باندې دروسیې قواو یرغل دنړیوالو قوانینو او انساني کرامت خلاف کار و .

۲۵ اکتوبر – ۳ لړم: په پشاور کې دمیشته او ګوني ګوندونو مشرانو یوګډه اعلامیه خپره کړه چې په کې دمجاهدینو څخه غوښتنه شوې وه په خپلو سیموکې ګډې شوراګانې جوړې کړي او خپلې منځنۍ ستونزې داسلامي شریعت له مخې حل کړي .

۲۶ اکتوبر – ۴ لړم: دپاکستان دصوبه سرحد پخواني اعلی وزیر فضل الحق له زندان څخه په ضمانت آزادکړای شو هغه دخپل کورمخې ته خبریالانو ته وویل: افسوس هغه څه چې موږ په لس کالو کې دافغاني مجاهدینو لپاره کړي و اوس دبې نظیربوټو حکومت له مینځه یوړل هغه زیاته کړه : ددې سره سره مجاهدین باید صبروکړي او موږ ترآخره دهغوی څخه ملاتړوکړو .

۲۶ اکتوبر – ۴ لړم: دعبوري حکومت مشرمجددي په اسلام آباد کې دمصرسفیرسره ولیدل په دې لیدنه کې دمصرسفیرمجددي ته ډاډ ګیرنه ورکړه چې مصر به د افغانستان ترکاملې آزادۍ پورې دمجاهدینو څخه ملاتړوکړي .

۲۷ اکتوبر – ۵ لړم: دعبوري حکومت یو پنځه کسیزه هیئت د ملګروملتو په غونډه کې دګډون په خاطرنیویارک ته سفروکړ .

ددې هیئت مشري فاروق اعظم کوله چې په ملګرو ملتو کې به د افغانستان چوکۍ دا شغالولو لپاره هلې ځلې وکړي .

۲۸ اکتوبر – ۶ لړم: فاروق اعظم چې دعبوري حکومت دیو هیئت په مشرۍ نیویارک ته تللی په نیویارک کې خبریالانو ته وویل: که دملګرو ملتو مطلب دپراخ بنسټیز حکومت څخه داوی چې دنجیب حکومت ته په کې ځای ورکړای شي خودا په هیڅ صورت مجاهدینو ته دمنلو وړ نه دی او دهغې پرته دا اوسنی حکومت پراخ بنسټیز دی او دهیواد ټولې پرګنې په کې برخه لري .

۲۹ اکتوبر – ۷ لړم: دعبوري حکومت صدراعظم استادسیاف د بي بي سي پښتو څانګې سره په مرکه کې وویل: موږ به په هیڅ صورت کې دنجیب حکومت سره خبرې ونکړو هغه نه مسلمان دی نه افغان دی بلکې نانځکه ده چې واک ئې دروسانو په لاس کې دی .

۲۹ اکتوبر – ۷ لړم: دمجاهدینو لري ویشتونکي توغندي دکابل

ساینس و قرآن

نویسنده: خالد مسعود
ترجمه: وحدتیار

ساینس درهیچ زمانی ازفرایض انبیاء (ع) نبوده، قرآن مجید درآیات گوناگونش ازفرایض ومسئوولیت هایی تذکربعمل آورده که مطابق به آن رسالت وفرایض پیامبرانست که وحی آسمانی رابه مردم برسانند، آیات واحکام خدا را تعلیم بدهند، تعلیم حکمت بدهند واخلاق وکردار انسانها را تزکیه نمایند.

زمانیکه غرب با سلاح علوم جدید مسلح گردیده وبه سرزمین های اسلامی حمله آورشد، دانشمندان ودانشوران مسلمان غرض جلوگیری ازین یورش غرب بدفاع پرداختند. ولی چون ایشان خیلی ها ازین علوم جدید مرعوب ومتاثر بودند علت وانگیزهٔ عقب ماندگی مسلمانان را، شیوهٔ تعلیم اسلامی آنان تلقی نموده ازیکطرف درین دفاع خویش رویهٔ معذرت خواهانه درپیش گرفتند وازجانب دیگر یک سلسله حقائق بدیهی را که اساس ومبنای قرآنی داشت انکار ورزیدند. آنهم به این علت که عقل پرستان غرب آنرا قبول نمی کردند.

لاکن هنگامیکه این استیلا ویورش غرب خاتمه پذیرفت ومسلمانان خوددرین علوم دسترسی حاصل نمودند، بجای اینکه دانشمندان اسلامی راه اعتدال رااختیار می کردند، درین معامله افراط نموده، تلاش نمودند تا قرآن مجیدرا بحیث یک کتاب ساینس معرفی نمایند. حتی خواستندقوانین اخلاقی راکه درقرآن حکیم ذکرگردیده بودندتوجیه ساینسی نمایند.

باوجوداینکه این احساس ساینسدانان مسلمان قابل قدر است که آیشان قرآن مجیدرا بحیث یک رهنما می پذیرند، لاکن تغیر آوردن درماهیت قرآن وآنرا به شکل وچهرهٔ دیگری جلوه دادن خطرات گمراه کنی درپی خوددارد بهرصورت قرآن کتاب پروردگار عالمیان است، موضوع خودراخود معرفی می کند. بیایید موضوع قرآن را اززبان خودش بشنویم.

" ان هذا القرآن یهدی للتی هی اقوم " (الاسراء – ۹)

ترجمه: هرآئینه این قرآن راه می نمایدبراهی که درست تراست

ازین آیهٔ کریمه برمی آیدکه قرآن حکیم بشریت را بسوی صحیح ترین راه زندگی هدایت ورهنمائی می کندراهیکه باطی آن انسان به سعادت ابدی نایل می گردد.

خداونددرسورهٔ احقاف آیه (۳۰) ازیک گروه جن هنگامیکه قرآن را شنیدندوبه قوم خود باز گشته آنها را انذارنمودند، چنین حکایت می کند: "قالوا یٰقومنا انا سمعنا کتٰبا" انزل من بعد موسی مصدقا" لما بین یدیه یهدی الی الحق والی طریق مستقیم"

ترجمه: گفتندای قوم ما هرآئینه ما شنیدیم کتابی راکه فرودآورده شده بعدازموسی تصدیق کنندهٔ کتابهائیکه پیش ازاوبودهدایت می کندبسوی حق وبسوی راه راست.

ازین آیهٔ کریمه نیزچنین برمی آیدکه این قرآن انسانیت را بطرف حق وصراط مستقیم هدایت ورهنمائی می نماید.

خداونددرجای دیگری چنین می فرماید: " الرا کتب انزلنه الیک لتخرج الناس من الظلمت الی النورباذن ربهم الی صراط العزیزالحمید" (سورهابراهیم۱)

ترجمه: الرا: این قرآن کتابی است که فروفرستادیم آنرا بسوی توتا بیرون آری مردمانرا از تاریکیها بسوی روشنی بحکم پروردگار ایشان.

ازین آیهٔ کریمه نیزمعلوم می گرددکه پیامبر(ص) رسالت دارد که انسانیت را بوسیله نشروتبلیغ این کتاب ازتاریکیهای گمراهی بطرف نورهدایت ورهنمائی نماید.

ازین آیات خصوصا" وازمطالعه مجموعی قرآن حکیم عموما" برمی آید که قرآن مجیدکتاب هدایت است وبرای رهنمائی انسانیت نازل گردیده است. این هدایت پهلوهای عقلی، فکری، واخلاقی :

اکثراً" مورد بحث قرار می گیرد. با درک درست وصحیح این مسائل انسان دارای ایمان ویقین، اخلاق وعملکردی می گردد که وی را شایسته ولایق خلافت خدا درزمین می نماید.

ساینس وقوانین طبیعی موضوع قرآن نبوده بلکه ضرورت انسان است.

خداوند انسان را درمحیطی خلق نمود که همه وسایل واسبابی که انسان منحیث یک موجود زنده به آن نیاز دارد، دراطراف اش وجود داشت، همچنان درفطرت ونهاد انسان تمام آن طلاحیتهایی را که برای استفاده ازین وسایل در زندگی ضروری می باشد، بودیعت گذاشت.

این طلاحیتها که درراء س آن عقل قرار دارد کافی است که انسان با استفاده از آن به تسخیر این وسایل پرداخته آنرا به نفع خویش استعمال نماید. شیوه ای را که انسان با کشف قوانین طبیعی که درمتن طبیعت به ودیعت گذاشته شده است، برای تسخیر این وسایل بکار می برد، ساینس گویند.

بطورمثال ازبزرگترین ضروریات اولیه انسان خوراک می باشد، این ضرورت انسان قدیم را وادار ساخت که با رهنمائی عقل خویش از سنگ ها وفلزات وسائل وآلاتی بسازد که بکمک آنها زمین را نرم نموده آماده کشت وزرع نماید وهم توسط آن به صید وشکار حیوانات بپردازد وبدین ترتیب برای خویش خوراک تهیه نماید.

البته انسان درین بخش به کتاب وصحیفه آسمانی ضرورت نداشت چنانچه هرتعداد که به تجربه ومشاهده وی افزوده گردید به همان پیمانه علوم ساینس ترقی وپیشرفت نمود.

انسان امروز با رهنمائی عقل پیچیده ترین کمپیوترها را ایجاد نمود ولی انسان این همه مراحل ترقی مادی را بدون کدام صحیفه آسمانی پیمود.

ساینس درهیچ زمانی از فرایض تذکر بعمل آورده که مطابق به آن رسالت وفرایض پیامبرا نست که وحی آسمانی را به مردم برسانند آیات واحکام خدا را تعلیم بدهد، تعلیم حکمت بدهد، اخلاق وکردار انسانها را تزکیه نماید.

تعلیم علوم مادی در رسالت آنها شامل نبوده است. این مطلب را خود پیامبر اسلام (ص) بوضوح اظهار نموده اند، چنانچه روزی پیامبر اسلام (ص) از یک نخلستان می گذشتند مردم درخت های خرما را گرده افشانی میکردند پیامبر (ص) پرسیدند "چرا اینکار را می کنید؟" ایشان جواب دادند که با این ترتیب حاصلات خرما وحکم تعبدی دانسته تعمیل نمودند واز گرده افشانی دست کشیدند و همینکه سال آینده حاصلات پایین آمد به حضور پیامبر(ص) حاضر گردیده عرض نمودند، ما هدایت شما را تعمیل نمودیم ولی امسال حاصلات خیلی کم گردید.

پیامبر اسلام (ص) ارشاد فرمودند که درامور دنیوی به تجربه وعمل خویش اعتماد نمائید زیرا شما راجع به امور خویش بهتر از من میدانید.

این واقعه گرده افشانی که درکتب حدیث وروایات بنام " تاء بیر النخل "یاد گردیده است، خالصاً" یک پدیده ساینسی است، زیرا از یکجا شدن گرده های نر وماده که درساختمان های تذکیر وتاءنیث نباتات وجود دارد عمل بارآوری والقاح صورت می گیرد عموماً" این عمل توسط حشرات ووزش بادها بصورت طبیعی بوقوع می پذیرد، دهقانان وزارعان مدینه منوره این عمل را بدست خود انجام میدادند این یک عمل ساینسی ومربوط به مشاهده وتجربه بود وآنها درین مورد تجربه داشتند. پیامبر (ص) به فکر اینکه اگر این عمل عادتاً" بربنای قوانین وعوامل فطری وطبیعی صورت بگیرد باکی ندارد، مردم را مشوره ترک گرده افشانی داد. ولی نتیجتاً" همان سال حاصلات تقلیل یافت وپیامبر (ص) برمشوره و رهنمائی خویش اصرار نورزیده مردم را هدایت داد تا درهمچو امور دنیوی برتجربه ومشاهده خود اتکا نموده عمل نمایند.

باوجود اینکه قرآن یک کتاب ساینس نیست لاکن در موارد زیادی از حقایق ساینس تذکر بعمل آورده است. حتی می توان ادعا کرد که این موارد به پیمانه ای است که دنیای مادی بعدازطی قرن ها فاصله به آن رسیده است. این حقیقت نزد ساینس دانان جدید نیز مسلم است.

چنانچه یک داکتر فرانسوی بنام موریس بوکای که ازین بخش قرآن متاءثر گردیده اسلام را قبول نمود درکتاب خود بنام "قرآن، بایبل وساینس" اظهار میدارد که "ساینس جدید ومترقی نمی تواند هیچ یک موردی از موارد ساینس قرآن را رد نماید هریکی ازین موارد خیلی مستحکم ومستدل می باشد بحدی که ساینس بعدازطی چندین فراز ونشیب به آن رسیده است".

از مطالعه اجمالی آیاتی که درآن حقایق ساینسی تذکر گردیده است، نیز برمی آید که قرآن آنرا بحیث دلایل آفاقی پیش می کند یعنی دلایلیکه درهمه اکناف واطراف کاینات وجود داشته هر عام وخاص آنرا می تواند مطالعه

ومشاهده نماید .بطورعموم مباحث قرآن حکیم را می توان به سه بخش عمده تقسیم نمود:

۱- توحید
۲- رسالت
۳- معاد

دلائل آفاقی که درحقیقت همین واقعیت های ساینس را منعکس می نمایند، برای رسیدن وتکمیل همین مباحث سه گانه درقرآن وارد گردیده است . یعنی قرآن حکیم انسان را دعوت میدهدکه روی این دلائل غورنموده بوسیله آن به آسانی حقایق سه گانه (توحید، رسالت، معاد) رادرک نمایند واینکه این دلائل چه نوع موضوع را ثابت می کند، می توان ازنظم قرآن درک نمودبه عبارت دیگر نظم قرآن درحقیقت ممیز مدلول این دلائل است .

شیوه وروش ساینس اینست که ازشواهدحاصل شده ازحواس نتایج رااخذنموده ،صحت این نتایج را توسط تجربات وآزمایش ها مورد بررسی قرارمیدهدوبا تائید این نتایج ازطرف تجربیات وآزمایش ها ،آنرا بحیث یک اصل قبول - نموده ،درمراحل بعدی ارتقای مادی آنرا بکار میبرد.

به این ترتیب ساینس سمع و بصررا درموردمشاهدات وتجربات وعقل را درموردا ستنباط واخذ نتایج استعمال می کند .درحالی که قرآن مجیدبا تقدیم دلایل آفاقی نه تنها سمع، بصر وعقل را دعوت عمل میدهد ،بلکه مزیدبرآن ازانسان تذکر ،تفقه ،تدبر وعبرت پذیری را نیزتقاضا می نماید .

به عبارت دیگرقرآن این روش و شیوه دانشمندان ساینس را کافی نمی داند.

بلکه اوراآگاهی میدهدکه خود را به حصول فوائدمادی ازمشاهدات وتجارب حس منحصر ننموده با استعمال صلاحیتهای تذکر ،تفقه وعبرت پذیری جولانگاه نتیجه گیری واستنباط خودرا تا حقایق متافزیکی وسیع نماید.

معنی تذکرحصول یا ددهانی می باشد یعنی تذکرعبارت است ازاینکه انسان حقیقتی رافراموش می کندوبا مشاهده چیزی دیگری آنرا بیاد می آوردوازآن نسبت به حقیقت فراموش شده انتباه حاصل می کند، علمی راکه قرآن انسان راازآن آگاهی میدهد. اساسات ومبادی آن درفطرت وخمیرانسان به ودیعت گذاشته شده است لاکن انسان درلابلای لذات ودلچسپی های دنیا آنرا فراموش می نماید چون انسان برای فلاح وکامیابی خویش به علم صحیح ضرورت دارد .ازینرو خداوندخالق ومالک انسان درین کائینات قدم بقدم جلواش شواهدی قرارداده است که ازآن انسان انتباه حاصل نموده بیدار ومتذکر گردد.

خداوندقوم فرعون را غرض تنبیه وبیداری شان به قحطی گرفتار نمود .چنانچه درسوره - اعراف ازآن تذکر به عمل آمده است . همچنان درسوره توبه آیت ۱۲۶ چنین وارد گردیده است که خداوند دو مرتبه درسال بندگان خودرا موردآزمایش قرارمیدهدتا ایشان حقیقت زندگی را فراموش نکنندوتذکرحاصل نمایند.

همچنان درین موردرسوره زمر تمثیلاتی زیادی واردگردیده است .

قرآن حکیم جاییکه از مشاهدات نظام فطرت نیزتذکربعمل می آرد ازدانشمندان ساینس تقاضا می نمایدکه نگاه های خودرا صرف به فوائدمادی متمرکزننموده بلکه بوسیله آن به حقایقی آشنائی حاصل نمایندکه علم آن درفطرت شان پنهان است ولی ایشان آنرا فراموش کرده اند .چنانچه می فرماید : " ولقدعلمتم النشاه الاولی فلولاتذکرون " (واقعه ۶۲)

ترجمه : وبه تحقیق دانسته اید آفریدن نخستین را پس چرا یاد نمی کنید ؟

یعنی درخلقت وپیدایش انسان دلائل زیادی وجود داردکه با قیاس به آن می توان به آسانی حیات اخروی را ثابت کردولی شما چرا تذکرحاصل نمی کنید ،

وهمچنان درجای دیگرمی فرماید "ومن کل شیء خلقنا زوجین لعللم تذکرون " (ذاریات ۴۹)

ترجمه : وازهرچیزی آفریدیم جفت تا شما پندپذیرشوید .

یک دانشمندساینس تلاش و جستجوی خودرا تاحدامتیازمذکرو موءنث محدودمی سازد ولی درین آیت کریمه خداوندوراآگاه می نمایدکه این قانون زوجین در همه پدیده ها جاری وساری است یعنی هرپدیده بخودجفت ومکملی داردکه بدون آن ناقص ونا مکمل بنظرمی آید .غرض رسیدن به حقایق پدیده های دیگررا نیزدرروشنی این قانون مطالعه کن .زندگی دنیا نیزبدون جفت ومکمل خویش دارای خلا ونقص می باشدکه به اثرآن درین دنیا همه تقاضا های عدل پوره نمی شود. این کمی و نقص درآخرت تکمیل می گردد ،پس آخرت جفت ومکمل دنیا می باشد این دوجفت را پهلوی هم قرار داده غورنماییدتا به حقیقت برسید

تفقه به مفهوم عام آن عبارت است ازدرک وفهم درست وصحیح یک مطلب ولی درقرآن مجیدازیکطرف برای بیان همان فعل قلب استعمال می گرددکه ازآن جذبات واحساسات بوجودمی آید .درحالیکه ازفعل عقل به علم تعبیرمیگردد وازطرف دیگرهمان کیفیت درک و

فهم را تفقه گویند که در آن نگاه صرف به ظاهر یک شی منحصر نگردیده بلکه تا اعماق آن رسائی حاصل نماید. واصل حقیقت درک گردد.

چنانچه منافقین در دوران غزوه بنی المصطلق هنگامیکه اظهار داشتند که آنان بعد از عودت به مدینه بالای مهاجرین انفاق نخواهند کرد. درین مورد خداوند فرمود: "ولله خزائن السموات والارض ولکن المنفقین لایفقهون" (المنافقون - ۷)

ترجمه: وخدا راست خزانه های آسمانها وزمین ولیکن منافقان نمی دانند.

یعنی منافقین به این غلط فهمی مبتلا بودند که مهاجرین با اتکا به انفاق ایشان زنده اند. درحالیکه درمورد این حقیقت شعور نداشتند که خزانه های رزق همه وهمه نزد پروردگار عالمیان است وکلید آن نزد منافقین نبوده بلکه نزد خالق عالمیان می باشد.

همچنان قرآن درجنگ با مشرکین از غلبه وپیروزی صدنفر مسلمان ثابت قدم درمقابله با هزار نفر از مشرکین اطلاع داده است وعلت آن را نیز چنین بیان می کند که: "بانهم قوم لایفقهون" یعنی مشرکین صرف روی وسائل مادی حساب می کنند واز شعوری که برای مسلمانان بعد از ایمان آوردن حاصل گردیده است ایشان خالی اند یعنی اصل شکست وپیروزی نزد خالق عالمیان است واو حامی وناصر حق است وبس.

در روشنی این مفاهیم تفقه وقتی ما می بینیم که قرآن حکیم شواهد کائینات را ذکر نموده می فرماید: "لقد کان فی قصصهم عبرة لاولی الالباب" (یوسف - ۱۱۱)

ترجمه: هرآئینه هست درقصه پیغمبران پندی خداوندان خرد را

یعنی صاحبان عقل وشعور با مطالعه این داستان ها می توانند سنن وقوانین خداوند را درمورد اقوام مجرم وسرکش درک نمایند.

همین کلمه عبرت درواقعاتیکه ما روزمره درگرد وپیش خود مشاهده می کنیم نیز استعمال گردیده است چنانچه قرآن حکیم میفرماید: "وان لکم فی الانعام لعبرة نسقیکم مما فی بطونه من بین فرث ودم لبنا خالصا سائغا للشاربین" نحل - ۶۶

ترجمه: هرآئینه شما را درچهارپایان پندی است. می نوشانیم شما را از آنچه درشکم وی است از میان سرگین وخون شیر خالص گوارا نوشنده گانرا.

مطلب اینکه درین مشاهده حکمت عجیب پروردگار عالمیان را مطالعه کنید که چگونه از میان خون ومواد فضله حیوان شیر صاف وگوارا تهیه می نماید. درحالیکه ماشین آلات وتاءسیسات آن ظاهراً بنظر نمی خورد. ساینس با مشاهده این تظاهر قدرت درپی مطالعه آن می برآید که کدام عوامل کیمیائی درین عملیات کارفرما اند که از مواد خوراکه ء حیوان شیر تولید می گردد وکدام اعضا شامل کار اند، نوعیت فعالیت آن ها از چه قبیل است؟ لاکن از نگاه قرآن باید یک دانشمند ساینس از مطالعه پافراتر گذاشته قدرت کارگری پروردگار عالمیان را درعقب این تعامل درک کند. کسانیکه صلاحیت عبرت پذیری در ایشان مرده وخاموش گردیده است چشمان عقل ودل آنان نیز کور است.

ایشان با وجود اینکه همه چیزها را می بینند لیکن حقیقت آنها را درک کرده نمی توانند.

خداوند درسوره ء جاثیه شواهد وپدیده های زیادی را ذکر نموده که مرکز ومحور مطالعه ساینس را تشکیل میدهد مثلاً آسمان، زمین خلقت انسان ها وحیوانات آمدن پی درپی شب وروز واثرات بارش درزمین، فوراً بعداز ذکر این مطالب می فرماید: "تلک آیت الله نتلوها علیک بالحق" (جاثیه ۶)

ترجمه: این آیات خداست که ما برتو تلاوت وبیان می کنیم با حق. مطلب از "بالحق" آن نتایج قطعی وحقیقی است که با مطالعه این آیات انسان به آن دست می یابد.

از قید بالحق اشاره به این حقیقت است که اگرچه دیگران نیز راجع به این دلائل ونشانی ها غور می کنند لاکن غور وخوض آنان از یک زاویه ء خاصی ودریک محدوده خاص صورت می گیرد.

بدین لحاظ یا اصلاً به آن حقایق که درین دلائل مضمراست پی نمی برند ویا اینکه پی می برند ولی خواهشات نفسانی شان مانع از اعتراف به آن می گردد.

بطورمثال: راجع به زمین وآسمان ها ماهرین جغرافیای طبیعی نیز غور وفکر می نمایند راجع به خلقت انسان اناتومی نیز تحقیق بعمل می آرد. راجع به پهلوهای مختلف حیوانات بیولوژی نیز غور وفکر می نماید. راجع به گردش شب وروز بارش واوقات آن، تغییر وتبدیل هواها وموسم های مختلف ماهرین هواشناسی نیز بحث بعمل می آرند لاکن این تنگ نظران چنان حالت زبونی دارند که قادر اند با دوربین های خویش یک ذره را مطالعه نمایند ولی کوهی عظیمی را احاطه ومشاهده شان نمی گنجد.

ماهرین هواشناسی پیشبینی می کنند که دربیست وچار ساعت آینده موسم گرم وخشک خواهد بود واز آن توجیه وتاویلی نیز خواهند نمود، دربعض مواقع این

بقیه درصفحه (٦٤)

ددین احیا او تجدید

ژباړن : مولوی محمدنعیم "تائب"

په‌تیرپسی :

سیداحمدبریلوی (رح) اوشاه‌اسمعیل شهید (رح) (۱)

همداوجه‌وه‌چی دشاه‌ولی الله‌صاحب دوفات نه پوره‌نیمه‌پیړی‌هم‌نه‌وه‌تیره‌شوی چی په‌هندوستان کی یوداسی تحریک راپاځیده‌چی کټ مټ دشاه‌ولی الله‌رحمه‌الله‌علیه‌اهداف یی تعقیبول دشاه‌صاحب لیکونه‌اوملفوظات ،اودشاه‌اسمعیل شهید ،داقامت منصب ،عبقات ،تقویه‌الایمان اونوری لیکنی وګوری په‌دواړوځایونوکی همغه دشاه‌صاحب دڅپی خبری په‌نظرراځی .

شاه‌صاحب چی په‌عملی ډول څه‌وکړل همغه‌داوچی دقرآن اوحدیث دتعلیم اودځان دشخصی تاثیراو اغیزی نه‌یی دصحیح فکردخاوندانواوصالحو معنوی ډول دواړویوه‌تنه‌ډرلوده‌ددوی متحدجسد په‌ځانګړی اوبانفوذات ډول زه‌دمجدد په‌حیث نه پیژنم بلکی دشاه‌صاحب دتجدید تتمه یی بولم ددی حضراتودکاردځرنګوالی لنډیزداډول و .

۱ـ هغوی دعاموخلکودډین ،اخلاقواومعاملاتود اصلاح (غرقه‌شوی) کشتی راپورته‌کړه‌اوتر کوم ،کوم ځایه‌چی یی تاثیرورسیده‌هلته‌یی دژوندون داسی بدلون راڅرګندکړچی دصحابه‌وو دوخت یادیی تازه‌کړ .

۲ـ هغوی په‌دومره‌پراخه‌پیمانه‌دنولسمی پیړی په‌اول وختنی دهندوستان غوندی مخ په تنزل هیوادکی په‌مشکله‌کیدای شوای دجهاد لپاره‌تیاری ونیوه‌اوپدی تیاری کی یی دخپل تنظیمی توان کمال څرګندکړ ،اوپه‌پوره‌تدبر سره یی دخپل کاردپیل لپاره‌دهندوستان شمال غربی سیمی انتخاب کړی ،څرګنده‌ده‌چی داسیمی دجغرافیایی اوسیاسی اړخونه‌ددی کارلپاره ترټولوموزونی سیمی کیدای شوای .

څرګنده‌ده‌چی ریښتینی آسلامی تصوف ددی خاص قالب محتاج نه‌بلکی بل قالب هم ورته ممکن دی، دهغه‌لپاره ژبه‌هم‌بله‌اختیاریدای شی درموزوواشاراتونه‌هم‌اجتناب کیدای شی، دپیری اومریدی اوددی لړی دعملی شکلونوپه‌پریښودلوسره‌هم‌نورشکلونه‌اختیاریدای شی .

کسانو ګڼ شمیرخلک پیداکړل اوبیایی‌څلوروواړو زامنواوپه‌ځانګړی ډول شاه‌عبدالعزیزصاحب دا حلقه‌له‌حده‌زیاته‌پراخه‌کړه‌آن تردی چی په‌زرګونو دا ډول خلک دهندوستان په‌ګوښه‌ګوښه‌کی خپاره شول‌چی دشاه‌صاحب خیالاتو لاروړته‌پیداکړی وه همغه‌چی په‌دماغ کی یی دصحیح اسلام‌ځیری ځای نیولی واوهغه‌چی دخپل علماوفضلیت اوخپل روښانه سیرت په‌وجه‌یی په‌عاموخلکوکی دشاه صاحب اودهغه‌دحلقی دتاثیرامنځته‌کول‌ززریعه ګرزیدلی وو ،په‌حقیقت کی داسی ولکه‌دی خبری چی ددی تحریک لپاره‌ځای برابرکړی وی چی بالاخره دشاه‌صاحب دحلقی نه ،اویابه‌داسی وواییوچی دهغه‌دکورنه‌راپورته‌کیدونکی وُ .

سیدصاحب اوشاه‌اسمعیل صاحب په‌روحی او بیا یی په‌جهادکی کټ مټ دجنګ هغه‌اخلاقی‌اصول اوقوانین پکاروا چول چی دهغونه‌دیوه‌دنیاپرست جنګ کموونکی په‌مقابل کی دخدای دلاری یو مجاهدپیژندل کیدای شی ،اوپدی ډول ددنیا په وړاندی یوځل بیا په‌سیی معنا داسلام‌دروح ـ څرګندونه‌وشوده ،دهغو جنګ دهیواد ،مال ،قومی عصبیت اویابل دنیوی غرض‌لپاره‌نه‌وبلکی خالص فی سبیل الله‌جهادو .

دهغوپه‌وړاندی ددینه‌پرته‌بل هیڅ هدف نه وچی دخدای مخلوق دجاهلیت دحکومت نه‌راوباسی اودحکومت کولوهغه‌نظام رامنځ ته‌کړی چی هغه دخالق اومالک الملک خدای دخوښی مطابق وی، ددی سپیڅلی هدف لپاره‌چی هغه‌وجنګید لو ،نود اسلام داصولوسره‌سم‌یی اول جزیه‌وغوښته‌اوبیایی

دا تمام حجت نه وروسته توري ته لاس اوږد کړ او
کله چې یې توري ته لاس کړ نو د جنګ د هغو د مهذبو
اصولو یې پوره پابندي وکړه چې اسلام ور ښودلي
وو، هیڅ ظالمانه او وحشیانه فعل ور څخه صادر نه شو،
کوم کلي ته چې ور ننوتل نو د مصلح په حیث ور
ننوتل نه د مفسد په حیث، له فوج سره یې نه شراب
و، نه د باجو او سازونو غږونکي وو، نه یې باجې یې
غزولای، نه د فاحشو ښځو ټولګی، نه یې پوځي
چاونۍ د بدکارۍ اډه وه او نه داسې کوم مثال
پیدا کیږي چې د هغو پوځ د کومې سیمې نه تیر شوی
وي او د هغې سیمې خلکو د خپل مال او ښځو د عصمتو.
نو په لوټیدلو غم څرګند کړی وي، د هغه مجاهد به
د ورځې د آس په شا سپوروا و د شپې به په جاې نماز
باندې ولاړو، د خدای نه ویریدونکي، د آخرت د
حساب یادلرونکي او په هر حال کې که به زیان
ورته رسیده او که فائده په رښتین والي باندې
ټینګ ولاړو، که د رښتیا و نه به ګټه ورته رسیده او که
تاوان خو د رښتیا نه تیریدونکي نه (، چې کوم ځای
یې ماتې خوړلې د بې زړه توب له کبله یې نه ده
خوړلې او چې کله به یې فتح او بریالی توب تر
لاسه کولو نو متکبر او تیري کونکي به نه لیدل
کیده، په دې ډول سوچه اسلامي جهاد په هندوستان
کې نه ددې نه مخکې شوی او نه د هغه نه وروسته
وشو.

۳ – هغو ته چې په یوه وړه سیمه د کم وخت لپاره د
حکومت کولو وخت په لاس ورغی نو هغه ډول حکومت یې
په پښو ودراوه چې خلافت علی منهاج النبوت ورته
ویل شوي، هماغه دتقیری امارت، هماغه برابري
او مساوات، هماغه شوری، هغه عدل هماغه انصاف –
هماغه شرعي حدود، هماغه په حقه سره مال ترلاسه
کول او په حقه سره مصرفول، هماغه د مظلوم پر که څه هم
ضعیف وا و د ظالم مخالفت که څه هم زورور و، هماغه د
خدای نه ویري سره حکومت کول او د صالحو اخلاقو
په بنیاد د سیاست د ندې چلول، خلاصه په پراخ کې
هغه د حکومت کولو هغه نمونه یو ځل بیا تازه کړه چې
صدیق او فاروق (رض) وړاندې کړې وه.

دا خلک د هغو طبیعي اسبابو له کبله چې وروسته
یې ذکر راځي له ناکامۍ سره مخ شول (۲)

خو په افکارو کې یې چې کوم حرکت پیدا کړی و د
هغه اثر د یوې پیړۍ نه د زیاتې مودې د تیریدلو
سره تر اوسه په هندوستان کې موجود دی.

د ناکامۍ عوامل: د دې وروستي مجددانه
تحریک د ناکامۍ په عواملو بحث کول د هغو حضراتو

د طبیعت خلاف دی چې هغوی یوازې د –
عقیدې درلودلو یادونه خوښوي، لدې کبله اندیښنه
لرم چې ددې عنوان لاندې څه یادونه کوم هغه به
ځما د ډیرو وروڼو د تکلیف سبب وګرځي لیکن زموږ
مقصد ددې ټولو یادونو نه یوازې سابقین بالایمان
خلکو ته شاباسی وړاندې کول ندي بلکې ددین
د راتلونکي تجدید لپاره د هغوی د کار د څرنګوالي نه
درس اخیستل هم دی. نو موږ د دینه پرته بله چاره
نلرو چې په تاریخ باندې تنقیدي نظر واچوو او
ددې مشرانو او محترمو شخصیتونو د فخرو ړ کارونو
د معلومولو سره هغه عوامل هم بیان کړو چې خپل
سپیڅلي هدف ته په رسیدلو کې یې ناکام کړي دي.

شاه ولي الله او د هغه زامنو چې د علماي حقه و
او صالحینو کومه ډله تیاره کړې وه او بیا سید احمد
بریلوی (رح) او شاه اسمعیل شهید (رح) د صالحو
او متقي خلکو کوم لښکر تیار کړ د هغو د حالاتو په
ویلو سره به حیران پاته شو، او داسې به محسوسه
کړو لکه چې د لمړنی پیړی د صحابه وو او تابعینو
سیرت لولو او په داسې فکر کولو سره په تعجب وکړو
چې په داسې لنډه تیره زمانه کې څومره لوی خلک
تیر شوي خو ورسره به مو په زړه کې په ناڅاپي ډول
دا هم را وګرځي چې آخر څه وجه وه چې دومره غوره او
انقلابي غورځنګ (تحریک) چې قیادت او ملګری
یې داسې صالح، متقي او نه ستومانه کیدونکي
مخلص مجاهدین وو، د پوره هڅې او هاند سره په
هندوستان کې د اسلامي حکومت په رامنځ ته
کولو کې نه یوازې بریالی نه شول بلکې ددې په
خلاف د څو زره میله لرې ځای نه راغلي انګریزان
دلته د خالص جاهلي حکومت په رامنځ ته کولو کې
بریالي شول ددې پوښتنې د عقیدتمندي په جوش کې
د بې ځوابه پریښودلو معنا دا ده چې خلک به
صالحوالي، تقوی او جهاد د اوسني نړۍ په اصلاح
کې بې اغیزې وبولي او په دې خیال کولو سره به
مایوسه شي چې کله دا ډول سوچه جهاد ددا راز متقي
ډلې لخوا هم بري ته ونه رسید نو په راتلونکي کې
به څه ورڅخه جوړ شي؟ دا ډول شبهې په واقعي
ډول په خپلو غوږو د خلکو نه آورم، بلکې اوس چې
زه علي ګړ ته تللي وم نو د استرپیچي هال په ګڼه
جلسه کې زما په وړاندې دا شبهه وړاندې کړای شوې
وه او د هغې د دفع کولو لپاره ما یوه لنډه بیانیه هم
ورکړې وه، همدا رنګه ما ته دا هم معلومه ده چې نن
کومه د علماوو او صالحینو ډله زموږ په منځ کې
موجوده ده هغه په عمومي ډول ددې مسئلې نه خالي

الذهنه ده، پداسی حالکي چي که اوس ددی مسئلی
تحقیق او څېړنه وکړای شي نو ډیر داسی درسونه
به ورنه واخلو چي په راتلونکي کی به د هغو په
نظرکی نیولو سره ډیر غوره او صحیح کار کیدای شي.
زه په هغه تصوف پلاندی فی نفسه څه اعتراض
نلرم کوم چي هغوو راندی کړی وُ، هغه په خپل
ځای دخپلی روح په اعتبار د اسلام اصلي تصوف،
او د هغه نوعیت د "احسان" څخه مختلف نه وُ، لکن
کوم شي چي زه د پرهیز وړ بولم هغه متصوفانه
اشارات، د متصوفانه ژبی استعمال او د متصو-
فانه لاري سره ورته والی لرونکي او مشابه لاری
چاری ساتل دی، څرگنده ده چي ریښتني اسلامي
تصوف ددی خاص قالب محتاج نه بلکی بل قالب
هم ورته ممکن دی، د هغه لپاره ژبه هم بله اختیار-
یدای شي د رموزو او اشاراتو نه هم اجتناب کیدای
شي، د پیری او مریدی او ددی لړی د عملي شکلونو
په پریښودلو سره هم نور شکلونه اختیاریدای شي
لدی سره بیا څه ضرورت دی چي د همغه زاړه قالب په
اختیارولو باندی اصرار وشي چي په
هغه کی د ډیر وخت نه را پدی خوا د جاهلي تصوف
بازار گرم دی ده، د هغه د زیلونو خپریدلو چي مسلمانان
په کوم سخت اعتقادی او اخلاقي ناروغیو اخته
کړی هغه د فکر او نظر د خښتنانو نه پټه نه دی، اوس
داسی حال شوی چي یو سړی که پر څومره صحیح درس
ورکوی ضرور دا قالب استعمالوی هغه ټولی
ناروغی بیرته راگرزی چي د پیری د عمومي
رواج سونونه ور پوری تړل شوی.
لکه څرنگه چي داو بوغوندی حلال شي هم هغه
وخت منع کیږی لکه چي د مریض لپاره تاوان لري
همدا ډول دا قالب هم سره له اباحته پدی بنا
باندی بیخي د پریښودلو وړ گرځیدلی چي د هغه
په جامه کی مسلمانانو ته دا فیونو خوندور څکل
شوی، څرنگه چي څوک د څنگه ورسره تیریږی بیا
همغه افیون په یادوړځي چي په پیري
پیریویی ویده کاوه، د بیعت د معاملی په رامنځته
کیدو سره سم دستي په مرید انوکی هغه ذهنیت را
پیدا کیدل پیل کیږی چي د مریدی سره مختص شوی
وی لکه د هغه ذهنیت خاوندان، چي وایي: به مې
سجاده رنگین کن گرت پیر مغان گوید.
. ددینه وروسته د پیر صاحب او ارباب من دون
الله ترمنځ هیڅ توپیر نه پاته کیږی، فکر او
نظر فلج کیږی، د تنقید توان له منځه ځي، د علم او
عقل نه کار اخستل موقوف شي او په زړه او دماغ
باندی د شیخ بندگی داسی پوره تسلط لږ که چي
شیخ یی رب دی او دی یې مربوب، بیا چي کله د
کشف او الهام خبری اتری پیل شي نو د معتقدینو
دغلامي بندونه هم مضبوط کیدل پیل شي، ددینه
وروسته د صوفیانه رموزو او اشاراتو نوبت را رسیږی
، هغه بې چاره ددینه وروسته داسی الوزی چي
پروخت دعجائبو
او طلسمونو په نړی کی سیر کوی، او دی غریبانو
ته بیا دواقعیتونو په نړی کی دوخت تیرولو کمه
موقع په لاس ورځي.

نور بیا

قادیانیان په
انگلستان، المان او نورو اروپا-
ئي هیوادو، زیاتو افریقائي،
هیوادو، امریکا او زیات شمیر
عربي او اسلامي هیوادونو کی
مرکزونه لري، دوی منظمي خپرونې
لکه: الفضل، حقیقة الاسلام، النجم
مدینه، پیغام صلح او نور لري، ددوی
آخری خپره شوی مجله د تقوی مجله
ده چي یوه منهجي او تبشیري مجله
ده. نو اوس آیا هغه وخت نه دی را
رسیدلی چي اسلامي حکومتونه د
اسلامي امت له بدن نه د سرطان
دغه دانه وباسي؟

په بنارکی د کابل رژیم پر نظامی
